# خپل ماشوم له واکسینونو سره خوندي وساتئ

**د ماشومانو وړیا واکسینونههغوی هره ورځ د انتاني ناروغیو پر وړاندې خوندي ساتي.**

### ولې زه باید خپل ماشوم واکسین کړم؟



**د ماشومتوب واکسینونه په ایرلینډ او ټوله نړۍ کې له ډېرو کلونو راهیسې ماشومانو ته ورکول کېږي.** څېړنې ښیي چې واکسینونه خوندي او اغېزناک دي.

واکسین زموږ د ماشومانو د جدي ناروغیو څخه د ساتنې لپاره ترټولو غوره او خوندي لاره ده.

### ایا وخت مهم دی؟

**له دې ناروغیو څخه د خپل ماشوم د خوندي ساتلو تر ټولو غوره لاره دا ده چې ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی خپل ټول واکسینونه په خپل وخت ترلاسه کوي.**




دا غوره ده چې واکسین د مهالویش سره سم ترسره کړئ، ځکه چې هرکله چې واکسین ځنډېږي، دا ستاسو ماشوم په خطر کې پرېږدي.

### آیا واکسین به زما ماشوم له ناروغیو څخه خوندي وساتي؟

**واکسینونه ستاسو ماشوم د 14 سارې ناروغیو په مقابل کې خوندي ساتي. دا ناروغۍ له منځه ندي تللي.**

نوي زیږېدلي او کوچني ماشومان د انتانونو له امله د جدي ناروغه کېدو له لوړ خطر سره مخامخ دي، ځکه چې ددوی د معافیت سیستم لا تر دې دمه په بشپړه توګه وده نه وي کړې.



### واکسینونه څومره لګښت لري؟



**په ایرلینډ کې، د ماشومتوب واکسینونه د خپل عمومي ډاکټر له لارې ټولو ماشومانو ته وړیا ورکول کېږي.**

د خپل ماشوم په وخت واکسین کولو سره، تاسو دوی ته په داسې وخت کې تر ټولو غوره خوندیتوب ورکوئ چې دوی ورته تر ټولو ډېره اړتیا لري.

### که چېرې زه یوه لیدنه له لاسه ورکړم، څه پېښېږي؟

**که چېرې ستاسو ماشوم کوم واکسین له لاسه ورکړی وي، دوی بیا هم کولی شي چې هغه ترلاسه کړي.** له خپل عمومي ډاکټر یا د عمومي درملنې نرس سره خبرې وکړئ. دوی به ستاسو د ماشوم لپاره د هغو واکسینونو ترلاسه کول تنظیم کړي چې دوی ورته اړتیا لري.



که چېرې ستاسو ماشوم له بل هیواد څخه ایرلینډ ته راغلی وي، دوی کولی شي چې په ایرلینډ کې هم هغه واکسینونه ترلاسه کړي چې سپارښتنه یې کېږي.

**له خپل عمومي ډاکټر څخه پنځه ځلې لیدنه کول په یاد ولرئ**

د نورو معلوماتو لپاره له
**www.immunisation.ie**
څخه لیدنه وکړئ.

# ستاسو د ماشوم واکسینونه


## هغه ماشومان چې په 1 اکتوبر 2024 یا له دې نېټې وروسته زیږېدلي وي

زما ماشوم به کوم واکسینونه ترلاسه کړي؟

### 1 لیدنه - 2 میاشتې

**په 1 کې 6+PCV+MenB+Rotavirus**

3 پیچکارۍ + د خولې څاڅکي



### 2 لیدنه - 4 میاشتې

**په 1 کې 6+MenB+Rotavirus**

2 پیچکارۍ + د خولې څاڅکي



### 3 لیدنه - 6 میاشتې

**په 1 کې 6+PCV**

2 پیچکارۍ

په 8 میاشتو 0 ورځو عمر کې
د Rotavirus (نسناستي ویروس)
هیڅ واکسین نه ورکول کیږي



### 4 لیدنه - 12 میاشتې

**MMR+MenB+Chickenpox**

3 انجیکشنونه



### 5 لیدنه - 13 میاشتې

**په 1 کې 6+MenC+PCV**

3 انجیکشنونه



### که چېرې تاسو ایرلینډ ته کډه وکړئ

که چېرې ستاسو ماشوم له بل هیواد څخه ایرلینډ ته راغلی وي، نو هغه باید هغه واکسینونه ترلاسه کړي چې په ایرلینډ کې یې سپارښتنه کیږي. دا چاره هغوی له هغو ناروغیو څخه ساتي چې په ایرلینډ کې ډېرې عامې دي. عمومي ډاکټر یا د عمومي درملنو نرس به تاسو ته معلومات درکړي چې ستاسو ماشم کومو واکسینونو ته اړتیا لري.

### لنډیزونه (مخففات) او د هغوی معنا

| | |
|---|---|
| **په 1 کې 6** | خناق (دفتري)، هیموفیلس انفلونزا بی ډول (Hib)، تور زیږی، توره توخله (ساري توخی)، ګوزڼ او تیتانوس |
| **PCV** | نوموکوکل یوځای والی |
| **Rotavirus (د نسناستي ویروس)** | روټاویروس د خلی له لارې واکسین |
| **MenB** | منینګوکوکل بی |
| **MMR** | شری، ډبغونی، روبیلا |
| **کوڅیکی (د چیچک دانې)** | Chickenpox vaccine |
| **MenC** | منینګوکوکل سی |

### کله زما ماشوم خپل واکسینونه ترلاسه کړي، له هغه وروسته د څه شي تمه کولی شم؟

- تبه د MenB واکسین ترلاسه کولو وروسته عامه خبره ده. د مهربانۍ له مخې د خپلو لومړیو دوو لیدنو پرمهال له ځان سره د ماشومانو مایع پاراسیتامول راوړئ. دا به د تبې په کابو کولو کې مرسته وکړي.
- ځینې وختونه کېدی شي ماشومان په هغه ځای کې درد، پړسوب او سوروالی ولري چېرې چې پیچکارۍ ورکړل شوې وي. ډاډ ترلاسه کړئ چې جامې ډېرې تنګې نه وي.
- د نسناستي ویروس د خولې واکسین ترلاسه کولو وروسته لږ نسناستی درلودل عامه خبره ده. خپل ماشوم ته ډېرې شیدې ورکړئ. د خپل ماشوم د نیکر له بدلولو او غورځولو وروسته خپل لاسونه په احتیاط سره ومینځئ.

له واکسین ترلاسه کولو وروسته په غېږ کې نیول او خواږه ورکول ستاسو له ماشوم سره په ښه احساس لرلو کې مرسته کوي.

**په یاد ولرئ چې ستاسو ماشوم له عمومي ډاکټر څخه پنځو لیدنو ته اړتیا لري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دوی په بشپړ ډول خوندي دي.**

د لا زیاتو معلوماتو لپارهله
**immunisation.ie** څخه لیدنه وکړئ